PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۵۷

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۵۷ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۲۴ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د مرغومې ۲۰ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق صفرالمظفر ۵ مه د ۲۰۱۱ د جنورۍ ۱۰ مه

دوه بهرني سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په افغانستان کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

په کابل کې د ایساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د مرغومې پر ۱۹ مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه سرتېري په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د افغانستان په ښلاښلو سیمو کې وژل شوي دي.

سرچینې زیاته کړې، چې یو سرتېري یې د افغانستان په سویل او ښل یې په ختیځ کې د ماین په چاودنو ۳مخ

د هند د بهرنیو چارو وزیر:

د سولې بهیر پراخ دی او مشري یې باید افغانان وکړي



د هند د بهرنیو چارو وزیر اس ام کرشنا په کابل کې وویل، چې هېواد یې د سولې لپاره د افغان دولت له روانو هلو ځلو ملاتړ کوي، خو په دې برخه کې بهرنۍ لاسوهنه به په دې بهیر ښې اغېزې ونه لري.

ښاغلي کرشنا کابل ته د خپل سفر پر دویمه ورځ له خپل افغان سیال زلمي رسول سره له لیدنې وروسته خبریالانو ته په ویناکې په دې هم ټینګار وکړ چې د سولې بهیر باید په خپله د افغانانو له خوا رهبري شي: (هند د افغانستان د سولې له پروګرام څخه په بشپړه توګه ملاتړ کوي، دا یوه پراخه پروسه ده، باید شفافه واوسي او رهبري یې د افغانانو په لاس کې وي.

ټولنې ته د بیا راګرځولو په پروګرام کې هر ډول بهرنۍ لاسوهنه به پر دغه بهیر ښې اغېزې ونه لري.) نومورې په داسې حال کې دغه څرګندونې کوي چې د افغانستان د سولې د عالي شورا یو پلاوی په اسلام اباد کې د خپل سفر په ترڅ کې له پاکستانیو چارواکو سره د سولې لپاره په ګډو هلو ځلو سلاشوي دي. په دغه سفر کې پرېکړه وشوه، چې افغانستان او پاکستان به له وسلوالو مخالفینو سره د سولې یوه ګډه جرګه ګډې جوړوي. په کابل کې د هند د بهرنیو چارو وزیر همدا راز وویل، چې له خپل افغان سیال سره یې په خبرو کې په افغانستان کې د هندي دیپلوماتانو او اتباعو د امنیت په اړه هم خبرې کړي او په دې اړه یې ډاډ ترلاسه کړی چې د هغوی لپاره ټینګ امنیتي تدابیر نیول شوي.

د افغانستان د بهرنیو ۳مخ

پولیس جدید بدیل کمپنی های خصوصی امنیتی

وزارت امور داخله اعلام کرد که بعد ازاین، به هیچ نهادی اجازه داده نخواهد شد که برای امنیت پروژه ها، از کمپنی های امنیتی خصوصی استفاده کند.

زمری بشری سخنگوی وزارت داخله دیروز درکنفرانس هفته وار خبری، با ابراز این مطلب گفت که بعد از این، برای هیچ کمپنی امنیتی جدید، اجازۀ فعالیت داده نخواهد شد.

وی گفت که وزارت داخله برنامۀ جدیدی را برای نهادهایی که نیاز به امنیت داشته باشند، روی دست گرفته است.

وی افزود که ریاست محافظت عامۀ وزارت داخله، افرادی را در چوکات پولیس، جلب و جذب می کند که بدیل منسوبان شرکت های خصوصی امنیتی خواهند شد.

وی علاوه کرد: "هرشرکت و یا پروژه یی که به افراد امنیتی ضرورت داشته باشد، وزارت داخله، پولیس جدیدی را دربدل پول در اختیار شان می گذارد."

به گفتۀ وی، برای افرادی که به حیث پولیس جدید جلب و جذب می شوند، از سوی وزارت داخله تربیه گردیده و برای شان معاش مناسب پرداخته خواهد شد.

بشری در کنفرانس دیروزی، همچنان یادآور شد که اکنون، تمام کمپنی های خصوصی امنیتی غیرقانونی (۵۷ کمپنی)، منحل گردیده اند.



بر اساس معلومات بشری، از این کمپنی ها ۷۰۰۲ میل سلاح مختلف النوع، جمع آوری و به پروسۀ دایاگ (انحلال گروهای مسلح غیرقانونی) سپرده شده است. ص۳

بازداشت یکتن از اعضای طالبان با مقادیر سلاح و مهمات در ولایت لوگر

یکتن از اعضای طالبان با مقادیر سلاح و مهمات توسط نیروهای امنیت در ولایت لوگر بازداشت گردید.

به گزارش روزنامۀ اراده، بر اساس اعلامیۀ دفتر مطبوعاتی ریاست عمومی امنیت ملی، فرد یادشده عبدالقیوم نام دارد و باشندۀ قریۀ کمال خیل از مربوطات مرکز ولایت لوگر می باشد.

اعلامیه می افزاید، این فرد، وظیفۀ نگهداری سلاح و مهمات این گروه را برعهده داشت که توسط نیروهای امنیت ملی شناسایی و بازداشت شد.

بر پایۀ معلومات دفتر مطبوعاتی امنیت ملی، درجریان تلاشی از منزل نامبرده یک میل کلاشینکوف، یکپایه مخابره، دوعدد بم دستی و نیز بالاثر اعترافات موصوف یک مخفیگاه سلاح و مهمات مربوط ملا بشیر یکتن از قوماندانان ۱۵ نفری این گروه از قریه داوود خیل آن ولایت نیز کشف و به دست آمده است.

بر اساس این گزارش، مخالفان قصد داشتند، تا از این سلاح و مهمات، در فعالیت های تروریستی و تخریبی استفاده نمایند.

آیا مرگ و میر کودکان کاهش خواهد یافت؟

در حالی که واقعات مرگ و میر کودکان در کشور همچنان رو به افزایش است، وزارت صحت عامه ابراز می دارد که جهت کاهش در میزان مرگ و میر اطفال برنامه هایی را روی دست دارد.

MOHAMMAD AMIN KAMALPURI (RFE/RL)

ثریا دلیل سرپرست وزارت صحت عامه دیروز در یک کنفرانس خبری به رسانه ها گفت، با تلاش های مکرری که وزارت صحت عامه کشور انجام داده، بالای ۸۳ هزار کودک در ۳۱ ولسوالی واکسین را تطبیق نموده است.

وی در ادامه گفت: "به اساس اهداف انکشاف هزار سال چهارم که تنقیص مرگ و میر اطفال زیر ص۳

د انګلستان د ښکلا ملکه د افغانستان جګړې ته استوګنې

د انګلستان د ښکلا پخوانۍ ملکه، چې د بریتانیا په پوځ کې خدمت کوي، افغانستان ته استوګنې چې له بریتانوي پوځیانو سره د عسکرۍ خدمت وکړي.

کاترینا هوګ (Katrina Hodge)، چې د تېرکال په جنورۍ کې یې د ښکلا د ملکې تاج پرسر کړی و، بېرته پوځ ته ستنه شوې او اټکل کېږي چې راتلونکی کال به افغانستان ته واستول شي.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې کاترینا، چې د عراق په بصرې کې د عسکرۍ د خدمت په ترڅ کې د زړور تیاد ښوولو په خاطر ستایل شوې وه، خوشحاله ده چې یو ځل بیا د جګړې میدان ته ځي. دې وویل: «دا زما دنده ده. که زما وظیفه دا وي، نو باید ترسره یې کړم. که څه هم سخته ده چې څوک دې پر دې خوشحالي وکړي چې افغانستان ته ځي، خو دا زمونږ د کار تقاضا ده. زمونږ وظیفه ده چې ۳مخ

په افغانستان کې سوله د سمبول خو جګړه د حقیقت په توګه ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د بیان آزادي بیا هم د استبداد په زیر اوبم کې

ازادۍ رسنۍ د ډیموکراسۍ او مدني ټولنې هسته او بنسټ جوړوي، په کوم ملک کې چې د ډیموکراسۍ ډنډوره گرمه وي، خو ازادۍ رسنۍ هلته وجود ونه لري، دغه ډیموکراسي له بې ډوله گډبدا سره ورته او په هېڅ صورت نه شي کولای د خلکو رښتینې اراده او حاکمیت انځور کړي. له دې نه اخوا، ازادۍ رسنۍ د خلکو د سم پوهاوي، د ټولنې د پېښو او حوادثو پر وخت او رښتیني انعکاس او بلاخره د یو سالم نظام په رامنځ ته کولو کې مثبت او رغنده رول لري. زمور په هېواد کې هم له تېرو نهو کلونو راهیسې کله چې د طالبانو حکومت نسکور شوی، د ډیموکراسۍ، بشر حقوقو، بیان ازادۍ او د داسې نورو خوږو شعارونو گردانونه ژبه پر ژبه گرځي. ان تر دې چې دولت د بیان ازادي له خپلو مهمو او باارزښتو لاسته راوړنو څخه ګڼي او په هره غونډه او کنفرانس کې پرې حساب کوي. خو که واقعیتونو ته ځیر شو او په دې اړه منصفانه قضاوت وکړو، دا سمه ده، چې نن ورځ له کمې پلوه د رسنیو شمېر بیخي لوړ دی، خو د هغو ستونزو او ګوابنو نو له امله، چې د مګړۍ افغان ازادۍ رسنۍ ورسره لاس او ګرېوان دي، د رسنیو کیفي اړخ ډېر کمزنګه او پیکه برېښي.

د تېرو نهو کلونو په بهیر کې ډېر خبریالان او د قلم خاوندان ځورول شوي، ټکول شوي، بندیان شوي او ان وژل شوي دي، چې لاتراوسه یې د قاتلانو پوښتنه هم چا نه ده کړې. دا په داسې حال کې ده، چې دمګړۍ هم رسنۍ له همدې درد او رنځ څخه په امان نه دي پاتې، نږدې درې ځلور میاشتې کېږي، چې د کاپیسا ولایت د تلویزیون یو تن ژورنالیست چې له پڑواک خبري اژانس سره یې هم همکاري درلوده، په جیل کې د ناڅرګند او مرموز بند شپې او ورځې تېروي، په همدې موده کې په وار وار افغاني خبریالان د بهرنیو ځواکونو له خوا توقیف، کورونه یې تلاشي او ځورول شوي. د رسنیو پر وړاندې د همدغو مشهودو او ملموسو ننګونو په دوام، پرون ورځ له کابل ځخه د خپرېدونکې ورځپاڼې سر نوشت مسوول مدیر په داسې حال کې د دولتي ځواکونو له خوا توقیف شو، چې د هغه له توقیفیدو څخه څو ساعته وړاندې د کابل د جنایي ځېړنو مشر له ټولو دولتي او نادولتي اشخاصو او ادارو څخه غوښتنه وکړه، چې دوی به له ده څخه د ژورنالېستانو د توقیف غوښتنه ونه کړي.

په هر حال، د ژورنالېستانو داسې بې پوښتنې توقیف او ځورونه، د دې ترڅنګ چې په هېواد کې د بیان ازادۍ لړزانې ستنې نورې هم کمزورې کوي، دغه ډګر نور هم له محدودیتونو سره مخ او د بیان ازادي مخالف پوتانسیل په هېواد کې پیاوړی کوي، تر دې وروسته به هر خبریال او قلموال چې قلم اخلي، مجبور دی هغه مبهمه سره کرښه په پام کې ونیسي، چې له امله یې د ده ژوند ته ګواښ پېښېږي. دغه مسئله کولای شي، د هېواد پر ازادو رسنیو باندې ناوړې اغېزې ولري، له یوې خوا به هېڅوک نه شي کولای سپین ته سپین او تور ته تور ووایي او په ټولنه کې موجود کړه واقعیتونه په رښتینې بڼه تعبیر او منعکس کړي. زمور دولتیانو د بیان ازادي په شعاري توګه منلې نه د یوه ارزښت او د انسان د اساسي حق په توګه، که هغوی اوسمهال د بیان ازادي په قسمي توګه منلې، خو د دولتي مراجعو او کسانو له خوا د ژورنالېستانو د نیونې او ځورونې دوام پر دې دلالت کوي، چې دوی دغه ارزښت د یو لږ بهرنیو او کورنیو مصلحتونو پر بنسټ منلی، چې دغه مسئله په خپله د دې ځرګندوییکوي، چې ډیموکراسي او د بیان ازادي دلته په ابزاري توګه شتون لري، له دې پرته ځوک ورته د یو توت ارزښت هم نه ورکوي او کله چې وغواړي، تر مرۍ یې نیسي او د خپل شخصي مزاج تابع یې ګرځوي.

په افغانستان کې سوله د سمبول خو جګړه د حقیقت په توګه

میوند

سوله! اخ نوم یې څومره خوږ او پر زړونو ښه لګېږي، خو افسوس چې په دې هېواد کې د سمبول حیثیت لري او تش له نامه څخه یې ګټه اخیستل کېږي او یوازې نوم یې ژوندی دی، خو جګړه هغه تریخ، له وېرې، کرکې او ناخوالو ډک نوم او تصویر دی، چې د دې هېواد ټول خلک وزسره بلد څه چې، بېخي د ژوند برخه یې ګرځېدلې ده. اصله خبره داده، چې په دې هېواد کې د امریکایانو له راتګ سره یو ځای د جګړې تخم وشنیدل شو، او دې تخم د هېواد ډېرې سیمو ته سرایت وکړ او هلته یې ریښې وغځولې او ورځ په ورځ د ودې په حال کې دی. اوس په دې هېواد کې ورځ په ورځ د جګړې څپې پراخېږي او ورځ په ورځ دا جګړه د اوج پوړیو ته خېژي، خو ورسره د سولې سمبولیکې هڅې هم جوخټې روانې دي، خو تر اوسه یې هېڅ نتیجه هم نه ده ورکړې او د سولې په برخه کې تر اوسه پورې هېڅ داسې کار نه دی شوی، چې ستر ګې ورواړي، سره له دې چې د سولې په برخه کې دومره لګښتونه او پیسې مصرف شوي او مصرفېږي، چې ان د جګړې تر لګښتونو یې ښایي اندازه لږه نه وي، خو بیا هم په هېواد کې د سولې پر ځای جګړه واکمنه ده. که له یوې خوا په هېواد کې جګړه روانه ده او نوې نویوپوړې ته داخلېږي، نو له بلې خوا ورسره د سولې روانې هڅې هم باید وڅېړل شي او د دواړو لوریو مسیر ته پاملرنه وشي او دا پرتله شي، چې په دې هېواد کې د سولې هڅې په کومه او د جګړې هڅې په کومه روانې دي. که تر یوې اندازې په دې وروستیو کې د سولې هڅو ته پاملرنه وکړو او پایلې یې په ډاګه کړو، نو ویلای شو، چې ولسمشر حامد کرزي د سولې تر ملي مشورتي جرګې وروسته د جرګې له پرېکړې سره سم د سولې عالي شورا جوړه کړه، چې مشري یې د شمال ټلوالې مشر برهان الدین ربانی کوي. دا شورا د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په موده کې، تر ټولو لوړه او وروستۍ هڅه ده چې ظاهراً د سولې په نیت تر سره کېږي. د دې شورا تر جوړېدو مخکې د سولې هر ډول خبرې اترې او هلې ځلې چې په رسمي او یا نارسمي ډول له هرې ډلې سره شوې، ناکامې شوې دي. ولسمشر کرزي د سولې عالي شورا د پرانیستنې پر مهال وویل چې دا شورا به په خپلواکه توګه د سولې لپاره د منځګړي په توګه کار وکړي. دا چې ولې تر اوسه پورې د سولې روانې هلې ځلې نتیجه نه ورکوي او ناکامې دي او همداشان جګړه ورځ په ورځ تودېږي، ډېرې کورنۍ او بهرنۍ خبرې او کیسې شته، خو د ځینو چاپېریال نظرونه حواله ځینې د نظرخاوندان یې په اړه بېلابېل نظرونه لري: د سیاسي چارو د ځېړونکي او ازاد ژورنالېست وحیدالله غازي خپل په وینا امریکا او اروپا چې په افغانستان کې په لوړه کچه ښکېل دي، د سولې په اړه یو ډول دریځ نه لري، اروپا سوله کول غواړي، خو امریکا بیا د جګړې په مټ سولې ته د چاپېریال برابرول غواړي: ((د برتانیې او امریکا تر منځ اختلاف شتون لري، برتانیا د سولې، خو امریکا د زور کارولو دریځ لري. بل نړیوال عامل دا دی چې زمور ګاونډیان دوه ګونی سیاست لري، ګاونډیان زمور د حکومت له جوړېدو څخه وېره احساسوي، ایران وایي، او به به راڅخه وګرځوي او پاکستان بیا د ډیورنډ کرښې د موضوع د راپورته کېدو له وېرې له جوړ افغانستان سره جوړ نه دی.)) داسې انګېرل کېږي چې خپله ولسمشر حامد کرزی په رښتیا غواړي له خپلو ټولو مخالفینو او په ځانګړي ډول طالبانو سره سوله وکړي، خو د نومورې په حکومت کې ځینې داسې کسان شته چې په سوله او په سیاسي تشکیل کې د طالبانو ورګډېدل د خپلو امتیازاتو لپاره ګواښ بولي. ښاغلی غازي خپل وایي، همدا لامل دی چې د ولسمشر کرزي اداره د سولې په راوستلو کې پاتې راغلې او په وینا یې تر هغو به نور هم پاتې وي چې دا خندونه یې لرې کړي نه وي.

سره له دې چې ښاغلي ۳مخ

چه وقت امنیت در دو کشور (افغانستان و پاکستان) تأمین خواهد شد؟

محمداحسان پنجشیری

سخنگوی رییس جمهور چند روز پیشتر در دیدار هفتگی اش با خبرنگاران به صراحت از پاکستان خواست که با افغانستان همکاری صادقانه داشته باشد و گفت در صورتی که پاکستان در مبارزه با هراس افگنی و تعهدات صورت گرفته در این راستا صادقانه عمل کند، دامن ناامنی و بی ثباتی از کشور برچیده می شود. وحید عمر افزود، حکومت افغانستان امیدوار است، آنچه را سیاست مداران پاکستانی تعهد کرده، مطابق آن عمل کنند. وی گفت، ما امیدوار هستیم، تا مقام های سطح پایین تر هر دو مملکت باهم ببینند، تا برنامه ها و اقدامات عملی را تطبیق کنند که واقعاً نمایانگر همکاری مشترک و صادقانهٔ پاکستان در عرصهٔ مبارزه با تروریزم در منطقه باشد. وحید عمر تأکید کرد که حکومت فعلی پاکستان این نقطه را حالا درک کرده و به این نتیجه رسیده است که در راستای مبارزه با تروریزم گام های عملی باید برداشته شود. وی در ادامه چنین گفت، پاکستان به ضعف اینکه هر روز مردمان معصوم و بیگناه آن قربانی می شوند، مثل مردم افغانستان، سیاستمداران و نهادهای داخلی دولت پاکستان صادقانه به آنچه تعهد می سپارند، عمل کنند و ما آنچه تعهد سپردیم به حکومت پاکستان که از خاک افغانستان علیه پاکستان تجاوز صورت نخواهد گرفت، متعهد می باشیم.

تردیدی نیست که افغانستان و پاکستان با داشتن نوار مرزی مشترک و طولانی که بیشترین تهدیدها علیه ثبات و امنیت دو کشور نیز، از همین نواحی مرزی متوجه هر دو کشور است، نیازمند تقویت و گسترش همکاری های دو جانبه می باشند. بسیاری از عملیات های تخریبی که در شهرهای مختلف هر دو کشور راه اندازی می شود نیز، در همین مناطق طرح ریزی و سپس در نقاط مورد نظر مخالفان مسلح دولت های هر دو کشور اجرا می گردد. در واقع افغانستان و پاکستان قربانیان اولیهٔ تروریزم و افراط گرایی در منطقه است و در هر بار حملهٔ تروریستی در شهرهای هر دو کشور تعداد زیادی از افراد بیگناه و ماموران حکومتی جان های شان را از دست می دهند. علاوه برآنکه پاکستان هر از چندگاهی آماج حملات مرگبار تروریستی از جانب مخالفان مسلح و گروه های افراطی مسلح قرار می گیرد. افغانستان نیز، از گزند حملات تروریستی درامان نبوده و به صورت مکرر در شهرهای مختلف این دو کشور چنین حملاتی ص۳

آیا مرگ و میر کودکان ...

پنج سال است، افغانستان تعهد کرده که تا ۲۰۱۵ واقعات مرگ و میر اطفال زیر پنج سال کاهش پیدا کند."

به گفتهٔ مقام های وزارت صحت عامهٔ کشور، با تطبیق این برنامه، تا حد زیادی از مرگ و میر اطفال و مادران در کشور جلوگیری صورت گرفته است.

داکتر دلیل همچنان گفت که وزارت صحت عامهٔ افغانستان تلاش می کند، جهت جلوگیری از مرگ و میر اطفال و مادران خدمات صحی را در تمام مناطق کشور برای مردم عرضه نماید.

در همین حال مقام های وزارت صحت عامه می گویند، این وزارت به خاطر عرضهٔ خدمات صحی و تطبیق پلان پنج سالهٔ خود با مشکلات زیادی رو به رو است. وزارت صحت عامهٔ افغانستان در حالی از تلاش ها به هدف کاهش مرگ و میر اطفال و مادران سخن می زند که در این مورد انتقاد های زیادی وجود دارد. مردم می گویند که در بسیاری از مناطق دورافتادهٔ کشور، زمینهٔ تداوی درست و عرضهٔ خدمات صحی برای زنان و اطفال وجود ندارد. اما وزارت صحت عامهٔ می گوید، با وجود مشکلات امنیتی در کشور، آنها تلاش می نمایند، تا خدمات صحی را در مناطق ناامن نیز، برای مردم مهیا سازند.

چه وقت امنیت در دو کشور ...

سازماندهی و اجرا می گردد. مسلماً گسترده شدن سایهٔ ناامنی و عدم ثبات در دو کشور، ضررهای فراوانی را متوجه دولت ها و ملت های منطقه می نماید. بالا رفتن گراف فقر، بیکاری، ناامنی و رشد افراط گرایی در منطقه، همگی ریشه در بحران امنیت منطقه یی دارد که سال هاست دامنگیر این دو کشور است. چنانکه مردم بیچارهٔ افغان بخاطر پیدا نمودن لقمهٔ نان حلال وارد کشور همسایهٔ جمهوری اسلامی ایران می شوند و در آنجا از طرف دولت آن کشور به بهانه های مختلف بازداشت و به نحو فجیع به قتل می رسند که ما شاهد آن هستیم.

افغانستان و پاکستان خواسته یا نا خواسته قربانیان اولیهٔ ترور و خشونت در جهان شده است. این درحالی است که کشورهای دیگر فقط میدان جنگ را در این دو کشور متمرکز نموده و خود از آسیب های افراطی گری و خشونت درامان مانده اند. چندی قبل روزنامهٔ واشنگتن پست در مطلب تحلیلی از قول لوی درستیز ایالات متحدهٔ امریکا نوشت، موفقیت در افغانستان بدون کمک پاکستان ناممکن است.

واقعیت آن است که پاکستان در صورت نادیده گرفتن مشکلات دولت افغانستان و تقویت مخالفان مسلح دولت کنونی دولت افغانستان، خود نیز بیش از پیش در معرض تهدید قرار خواهد گرفت. از جانب دیگر، پاکستان شدیداً به بازارهای آسیای مرکزی به ویژه بازار انرژی این مناطق نیازمند است. ثبات و امنیت پایه دار در افغانستان می تواند، این نیاز اساسی و مهم پاکستان را با صرف هزینه های بسیار اندک تأمین نماید. پاکستان کشوری است با جمیعتی در حال انفجار و ضعف جدی بنیادهای اقتصادی این کشور باعث گردیده است که سطح زنده گی دراین کشور پایین بوده و گراف فقر بسیار بالاست. از این رو، ورود پاکستان به بازارهای آسیای مرکزی و تعامل کشورهای مختلف این مناطق با همدیگر می تواند، در رونق اقتصادی این منطقه از جهان به شدت کمک نماید و پاکستان در آن صورت، سودهای فراوان خواهد برد.بناءً بر کشور همسایه و همجوار پاکستان است، به خاطر برچیدن مراکز و لانه های تروریستی در آن سوی مرز جداً از خود واکنش و تلاش بی دریغ بخرج دهد، تا باشد فضای امن و آسایش در دو کشور (افغانستان و پاکستان) گسترده شده و امنیت سرتاسری در این منطقه تأمین گردد.

د سولې بهیر پراخ دی او ...

چارو وزیر زلمي رسول وویل، چې له خپل هندي سیال سره یې په خبرو کې د دواړو هېوادونو دا ډیکو او له افغانستان سره د هند د مرستو په اړه له خبرو سربېره پر یو لړ اقتصادي مسایلو هم خبرې وکړې: (په عین حال کې د افغانستان او هندوستان ترمنځ په نورو اقتصادي مسایلو هم خبرې وشوې، په ځانګړې توګه د افغانستان د کانونو د ایستلو مسئله او په هغې کې د هندي کمپینو لیوالتیا.

د سلما بند د کار د بشپړېدو، همدا راز د دواړو هېوادونو ترمنځ په کرنیزو مسایلو هم خبرې وشوې، په سیاسي مسایلو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوه مشورتي ستراتیژیک پروګرام د جوړېدو په اړه هم خبرې وشوې. موږ تمه لرو، چې یو مشورتي ستراتیژیک پروګرام جوړ کړو او په دې توګه یو بل د ټولو سیمه ییزو او ستراتیژیکو مسایلو په اړه باخبره وساتو.)

د هند د بهرنیو چارو وزیر د شنبې پر ورځ کابل ته ورسېده، نومورې همدا راز وویل، چې د وچکالۍ ستونزې ته په کتو سره به هند له افغانستان سره د یو لک ټنه غنمو مرسته هم وکړي.

هند په تېرو څو کلونو کې د افغانستان په بیارغونه کې په سلګونو میلیونه ډالره مرسته کړې، په کابل کې د دې هېواد په سفارت دوه ځلي بریدونه شوي او تر اوسه پورې یې دیپلوماتان له امنیتي ګواښونو سره مخ دي چې ظاهراً د پاکستان له خوا بلل کېږي.

د ازادي راډیو د راپور له مخې، په کابل کې یو شمېر کتونکي کابل ته د هند د بهرنیو چارو د وزیر سفر اسلام اباد ته د افغانستان د سولې د عالي شورا له سفر او تر دې پخوا کابل ته د پاکستان د صدراعظم له سفر سره تړلی بولي او وایي، هند هڅه کوي چې په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ مخه ونیسي.

په افغانستان کې سوله ...

غازي خپل یوازې تر پورته دوو عواملو خبره محدوده کړه، خو د ځینو په اند، د دغو لاملونو تر څنګ نور عوامل هم شته.چې په افغانستان کې د خبرو اترو له لارې د روانې کشالې د هوارولو خنډونه بلل کېږي. د ښې حکومتداری نه شتون، د اداري فساد پراختیا، د خلکو او دولت تر منځ پراخه بې باوري، د ګاونډیو هېوادونو ناسمه ښکېلتیا، د نړیوالې ټولنې نه قاطعیت او د افغانستان د کشالې سیمه ییزه بڼه یو د بل تر څنګ درېدلي او سوله یې ناشونې کړې ده.

د ولسي جرګې غړي او د سیاسي چارو شنونکي خالد پښتون په وینا، جګړه کوونکي د ولسونو له منځه راولاړېږي، تر هغو چې د ولس باور خپل نه کړل شي، د خبرو اترو له لارې د افغانستان د لانجې هوارول ستونزمنه چاره ده: ((په حکومت کې بې نظمي ده، بې کفایتي ده، اداري فساد اوج ته رسېدلی، خلکو پر حکومت باور له لاسه ورکړی، ګاونډیان مو د سولې له راتلو وېره لري، نړیوال د لومړیو کلونو په شان قاطع نه دي، دا ټول د جګړې د دوام او د سولې د نه راتلو عوامل دي.)) بل پلو اوسمهال امریکایي مقامات هم پر دې ټکي ټینګار کوي، چې په افغانستان کې باید د جګړو لمنه نوره هم توده او پراخه شي او د سولې د راوستلو لپاره جګړه او پوځي عملیات ترسره شي او روان زېردي کال باید ډېرې سختې جګړې او پوځي عملیات وشي. لوبدیځ مقامات د پوځي زور کارونې خبره داسې مهال کوي چې د سولې عالي شورا له مخالفینو سره د خبرو د لارو چارو بهیر پیل کړی او انګېرنې دادي چې ښایې د عملیاتو دوام د سولې پر بهیر ناوړه اغېز ولري. په افغانستان کې د ناټو ځواکونو ویاند جنرال جوزیف بلاټز څو ورځې وړاندې له بي بي سي سره په مرکه کې وویل، زه په دغه هېواد کې د نورې جګړې اړتیا وینم، ځکه لا هم دلته تاوتریخوالی شته او طالبان په ببلا ببلو سیمو کې په پرله پسې ډول جرمي فعالیتونه تر سره کوي. له همدې کبله اړتیا ده چې په هر ځای کې ولیدل شي باید تر فشار لاندې راشي.)) په افغانستان کې د جګړو د دوام خبرې داسې مهال کېږي چې د سولې عالي شورا د حکومت له مخالفینو سره د سولې او مذاکراتو پر لارو چارو غور کوي او په همدې موخه په دې وروستیو کې یو پلاوی پاکستان ته لاړ چې په دې لاره کې د هغه هېواد ملاتړ تر لاسه کړي او بلاخره یې له پاکستان هېواد سره د سولې په برخه کې د یوې ګډې جرګې د جوړېدو په هکله هم هوکړه سره وکړه. په دې ډول که د سولې روانې هڅې وځېړو او پایلې یې وګورو او له بلې خوا ورځ په ورځ پراخېدونکې او تودېدونکې جګړې ته پاملرنه وکړو او د جګړې پر دوام د لوېدیځو چارواکو ټینګار ته هم نظر وکړو او پایلې یې وځېړو، نو ویلای شو، چې په دې هېواد کې د سولې ټولې روانې هڅې ناکامې دي، تر اوسه یې کومه مثبته پایله نه ده درلودلې او بالمقابل جګړه هره ورځ زور اخلي او پرمختګ کوي، نو په داسې حال کې چې د سولې له هڅو سره سره بیا هم په دې هېواد جګړې زور اخلي، مخالفتونه پیاوړي کېږي او تاوتریخوالي د اوج پوړیو ته رسېږي، ځنګه به په دې هېواد کې سوله راشي او د جګړې لمنه به ټوله شي او په دې اړه ګران لوستونکي ښه قضاوت کولای شي، چې په دې هېواد کې سوله د سمبول او جګړه د حقیقت بڼه لري او د جګړې د دوام په موخه د عامه ذهنونو د غولولو لپاره سوله او د سولې هڅې یوازې د سمبولونو په توګه کارول کېږي.

دوه بهرني سرتېري ...

کې وژل شوي دي. د ایساف خبرپاڼې د پېښو کره ځای او د وژل شویو سرتېرو هویت نه دی په ډاګه کړی. بلخواد پژواک د رپوټ له مخې، د فرانسې دفاع وزارت اعلان کړی، چې د افغانستان په ختیځ کې یې یو سرتېری وژل شوی دی. د دغو سرتېرو له وژل کېدو سره په روان زېردي کال کې د ایساف د وژل شویو سرتېرو شمېر ۹ تنو ته ورسېد.

د انګلستان د ښکلا ملکه ...

باید هلته لاړ شو او خپل هېواد وساتو.»

څلورویشت کلنې هوګ د تېرکال په جون کې په سریلانکا کې له یوه بل عسکر سره، چې «نیل» نومېږي واده وکړ. د نومورې عسکر د کورنۍ نوم په امنیتي دلایلو نه دی افشا شوی.ویل شوي چې د دوی د واده مراسم هم پټ ترسره شوي. هوګ درې میاشتې وروسته له دې چې د انګلستان د ښکلا د ملکې موده یې پوره شوه، ببرته پوځ ته ستنه شوه او په یوه نوې قطعه کې شامله شوه.

کله چې دا د انګلستان د ښکلا ملکه غوره شوه، نو ګومان کېده چې پوځ ته به شا واړوي، خو دا وایي چې ژمنه یې کړې وه چې له پوځ څخه تګ به یې موقتي وي.

هوګ سر له اوسه افغانستان ته د تګ لپاره تیاري پیل کړې ده.هر عسکر چې افغانستان ته استول کېږي ځانګړي تمرینونه کوي. پر پوځي تمرینونو سربېره هغوی د افغانانو له دود - دستور سره ځان بلدوي او تر یوه حده پښتو ژبه هم زده کوي.

پولیس جدید بدیل کمپنی های...

بشری افزود که پایگاه های ۳۶ کمپنی امنیتی قانونی، از شهرکابل به بیرون انتقال داده شده است.

بر اساس معلومات وزارت امور داخله، در حال حاضر ۲۷ کمپنی امنیتی خصوصی خارجی و ۲۵ کمپنی امنیتی داخلی، به شکل قانونی فعالیت دارند.

اما بشری گفت که این کمپنی ها نیز قدم به قدم منحل خواهند شد.

رییس جمهور کرزی به تاریخ ۳۰ اسد سال روان، به وزارت امور داخله وظیفه سپرد، تا پروسهٔ انحلال شرکت های امنیتی خصوصی را آغاز نماید.

چشم انداز آیندهٔ تحولات سیاسی پاکستان

احمد فراهانی

بازگشت جنبش متحد قومی به دولت ایتلافی پاکستان، هرچند فضای تنفس جدیدی در اختیار یوسف رضا گیلانی قرار داد، اما تحلیلگران معتقد اند، این فضا تنها مشکلات این کشور را برای مدت کوتاهی کاهش خواهد داد و نمی تواند، شکننده گی وضعیت موجود را به طور کامل رفع کند.

رایزنی های صدراعظم پاکستان با حزبی که تنها ۲۵ نماینده درمجلس ملی دارد، شاید در وهلهٔ اول برای دولت گیلانی از منظر نتایج آن خوشایند بوده، اما بسیاری از ناظران مسایل این کشور تاکید دارند، پایه های آرای وی، به تدریج درحال محو شدن است.

دولت پاکستان طی هفتهٔ گذشته با بحران فوق العاده خطرناکی رو به رو بود، اما ترور سلمان تاثیر والی ایالت پنجاب این فرصت را به اعضای ارشد حزب مردم داد، تا آنها با گفتگوهای فشرده، به نقطهٔ تعادل بازگردند.

بازگشت دولت پاکستان به نقطهٔ تعادل از منظر اقتصادی دارای هزینهٔ سنگینی بود؛ چرا که همزمان با عقب نشینی از افزایش قیمت سوخت - به عنوان بخش مهمی از فرایند اصلاح اقتصادی - امریکا که کمک های مالی عمده یی را در اختیار پاکستان قرار داده است را به شدت خشمگین کرد.

گیلانی همچنین در ادامهٔ امتیاز دهی به رقبای سیاسی خود گفته است که پیشنهاد برای افزایش مالیات بر فروش که مورد نظر صندوق بین المللی پول است و امریکا نیز، از آن حمایت می کند- را پس می گیرد.

هیلری کلنتن وزیر امور خارجهٔ امریکا، لغو طرح افزایش قیمت سوخت را اشتباهی خوانده است که تلاش های پاکستان را برای تقویت اقتصادش ناکام می گذارد.

روابط بین جنبش متحد قومی و حزب مردم پاکستان ماه قبل و زمانی رو به وخامت گرایید که ذوالفقار میرزا وزیر داخلهٔ ایالت سند و از مقام های حزب مردم، آن حزب را مسوول خشونت های کراچی معرفی کرد.

جنبش متحد قومی نیز، دولت این کشور را از تامین امنیت شهر کراچی که مرکز استقرار بانک مرکزی، بورس و بندر اصلی این کشور و نیز، دفترهای شرکت های عمدهٔ سرمایه گذار خارجی در پاکستان است، ناتوان می داند.

در ترورها و خشونت های سیاسی کراچی که به طرفداران حزب متحد قومی و حزب رقیب آن یعنی حزب عوامی ملی نسبت داده می شود، نزدیک به یک ۱۱۳۲ تن کشته شد.

تنش های سیاسی پاکستان بهبود شرایط حاکمیت نظم و قانون را در شهر کراچی بسیار دشوار می کند و این در شرایطی است که ۶۸ درصد درآمدهای دولت و ۲۵ درصد تولید ناخالص داخلی این کشور در این شهر به دست می آید. احزاب مخالف ممکن است، از طریق مانع تراشی بر سر تصویب قوانین در این کشور، برای گیلانی مرگ تدریجی سیاسی را رقم بزنند.

نکتهٔ مهم دیگر، اصرار احزاب برای کناره گیری گیلانی از سمت صدارت پاکستان است. اصرارهای احزاب مسلم لیگ نواز و قاید اعظم و همچنین جمعیت علمای اسلام (شاخهٔ فضل) برای حذف گیلانی از دولت، نشان می دهد که بحرانی که هفتهٔ گذشته دولت پاکستان پشت سر گذاشت، زوایای دیگری نیز، دارد که در شرایط موجود تنها به شخص گیلانی بازمی گردد. ارزیابی دقیق تر از شرایط یوسف رضا گیلانی در صحنهٔ سیاست پاکستان وقتی کامل می شود که ما به دلایل سکوت آصف علی زرداری رییس جمهور این کشور در بحران سیاسی هفتهٔ گذشته و البته دفاع نصفه و نیمهٔ وی از گیلانی بیشتر تعمق کنیم. هفته های آینده برای دولت پاکستان و شخص گیلانی تعیین کننده است، ضمن آنکه بازگشت زرداری از امریکا به طور قطع به پررنگ تر شدن سایهٔ روشن های عرصهٔ سیاست پاکستان کمک خواهد کرد.

۵۵۰۰ سرباز مجروح طی یک سال در افغانستان

وزارت دفاع امریکا گفته است که در جریان سال ۲۰۱۰ میلادی، ۵۵۰۰ سرباز آنها در افغانستان مجروح گردیده اند.

نیویارک تایمز، یک روزنامهٔ امریکایی به نقل از یک منبع (پنتاگون) وزارت دفاع امریکا، در شمارهٔ دیروز خود نوشت که این ارقام، نسبت به سال ۲۰۰۹ میلادی دو برابر افزایش را نشان می دهد.

منبع افزوده است که در سال ۲۰۰۹ میلادی، در افغانستان ۲۴۱۵ سرباز امریکایی مجروح گردیده بودند.

در گزارش نیویارک تایمز آمده است که شمار مجروحان سال ۲۰۱۰ میلادی، نسبت به سال ۲۰۰۸ میلادی، شش برابر افزایش یافته است.

وزارت دفاع امریکا نیز گفته است که در جریان سال ۲۰۱۰ میلادی ۴۳۰ سرباز آنها کشته شده، اما یک روزنامه به نام تلفات گفته بود که در جریان این سال، ۴۹۸ سرباز امریکایی کشته شده است.

سال گذشته، خونین ترین سال برای نیروهای خارجی ثابت شده است؛ در این سال مجموعاً ۷۱۱ سرباز خارجی به قتل رسیده اند.

این در حالی است که در جریان سال ۲۰۰۹ میلادی، ۵۲۱ سرباز خارجی در افغانستان کشته شده بودند.

برید جنرال جوزف بلاتس سخنگوی نیروهای ناتو در افغانستان، به آژانس خبری پژواک گفته بود که تعداد عساکر آنها زیادشده و ساحهٔ عملیات آنها گسترش پیداکرده است.

وی اضافه نمود که به همین علت، شمار تلفات سربازان آنها نیز افزایش یافته است.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده دهم: ح- دسترسی به اطلاعات آموزشی ویژه (خاص) که سلامتی و تندرستی خانواده را تضمین مینماید، ازجمله اطلاعات و پیشنهاداتی درمورد برنامه ریزی خانواده.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com